سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۲/۰۷

# د هیلو سندره

ښکاریږی چی رڼا راځی په کلی د افغان
ختمیږی ژړاګاني
د سولی ترانې وا یی کوڅو کی ماشومان
تیارې په ختمیدو دي

+++++

ځلوینت کاله ویرونه
د غــم اوږده کلـــونه
تبــاه یی کړل ولسونه
نابوده دی جـګړه شی دُعا کاندی یتیمان
ختمیږی توفانونه
له خوبه را ویښــیږی نور بچوړی د افغان
ختمیږی ژړاګاني

+++++

دردونه بی حسابه
غوښتني بی ځوابه
بهر له هر کتابه
جنګونو رانه و خوړل زلمی زلمی ګلان
ختمیږی توفانونه
را رسی مو غوږو ته د بلال د خولی آذان
تیارې په ختمیدو دي

+++++

دوه ورونه پخلا کیږی
یوبل ته نژدی کیږی
دا کلــی آبادیــږی
خو پام کوه افغانه لار کی ناست دي رقیبان
چی بیل کاندی ولسونه
سوځیږی په لمبو کی ستا د سولی دښمنان
بیدار اوسه بیدار

+++++

پردیو نه را پردئ شه
ګام واخله ګړندئ شه
یوځل بیا میړنئ شه
کومک ته دی راځی له هدیرو نه شهیدان
تیارې په ختمیدو دي
دُعا درته کوی د نړۍ ټول مسلمانان
بیدار اوسه بیدار

فبروری/۵/۲۰۱۹
مرکم ـ تورنتو/ کانادا